



# The Return to Work scheme and work injury support (کارته بیرته ستنیدلو پلان او کارژوبلې ملاتړ)

ReturnToWorkSA (جنوبي آسترالیا کارته بیرته ستنیدل) د جنوبي آسترالیا کاروبار/بِزنس او دهغوئ کاریګرو ته په کارکی دژوبلیدو پیښو کی بیمه مُهیا کوي

کارته دبیرته ستنیدلو پلان دا پیژني چي هغه کسان چې په جدي توګه ژوبل شویدي هغوئ د نورو نه چې نه دی شوي بیل ډول ملاتړ ته اړتیا لري.

**د ژوبل شویو کسانوملاتړ کی دا ګډون دي:**

- تردوه کلو مودی پوری د عاید ملاتړ چې د معاش دلاسه تللو جبران وکړي – په عمومي توګه دژوبلیدو د نیټې څخه پیل کیږي
  د ژوبلیدلو نیټې څخه تر دری کلو پوری معقول او لازمي طبي روغتیایي درمل یا علاج او پاملرنه
  کارته دبیرته ستنیدلو خدمتونه ، لکه په کارځای کی ګمارل او بیا روزنه تردری کلونو پوری .

**د کومو کسانو سره چې په جدي توګه ژوبل شویدي ملاتړ کیدای شي په دی کی:**

د تقاعد عمرپوری د عاید ملاتړ

عمري معقول او لازمي طبي روغتیایي درمل یا علاج او پاملرنه

که ایجاب کړي،  کار ته د بیرته ستنیدلو خدمت ګډون لري.

په کارکی د ژوبلیدو په پیښه کی چیرته چې اِحتمال لري تاسو د کار څخه تر دوه اونیو لیری اوسی، ستاسو د ادعا استازی/ایجنټ به هڅه وکړي چې یو کیس/موضوع مدیرستاسو کارځای ته درولیږي چې تاسو او کارخاوند/کارفرما سره وګوري او تاسو درمل او علاج سره ومُښلولي یا ارتبِاط ورکړي، پاملرنې او ملاتړ خِدمتونه هغه ډول چې ایجاب کوي ستاسو د روغیدو او تر کومه ځای چې ممکن وي کار ته به په بیرته ستنیدو کی مرسته وکړي. د کارځای کی مخامخ لیدنه به ژرترژره چې ممکن وي وروسته دژوبلیدو دخبرتیا څخه ترسره شي.

## What to do if you are injured
## کـه تاسو ژوبل شئ، څه باید وکړئ؟

که تاسو په کارکی ژوبل شوئ څو مهم ګامونه دی چې باید واخیستل شي.

### ۱ ګام: د مناسب درمل یا علاج لټه وکړئ

### ۲ ګام: خپل کارخاوند/کارفرما خبر کړئ:

کـه ممکن وي د ژوبلیدو د پیښې نه پـه ۲۴ ساعتو دننـه کی په لیکلي یا شفاهي توګه خپل کارخاوند باید خبرکړئ. کـه تاسو نـه شوه کولای چې دا کاروکړئ ستاسو یو استازی لکـه د کورنۍ یو غړی یا یو دوست کولای شي چې د کار خاوند خبر کړي.

### ۳ ګام : یو ډاکټر وګورئ

ډاکټر بـه ستاسو دژوبلیدلو ارزونـه وکړي او پریکړه به وکړي چې ستاسوڅـه ډول ژوبله زغملی ده، کوم ډول درمل اوعلاج ایجاب کوي چې ترسره شي، په ګډون د علاج اودرمل وارواراو موده. دوئ به تاسوتـه د کارد توان تصدیق درکړي کوم چې تاسو بـه ورته اړتیا ولرئ چې د کارخاوند ادعاؤ استازي تـه یی د یو دعوی فورمې سره کـه لازم وي د کار نـه د رخصت او د دعوی د پریکړې کولو په هکلـه ورکړئ ، شامِل وي.

### ۴ : ګام دعوی وکړئ

### قدم ۴: ادعا یا درخواست خود را ارائه نمایید

کـه ستاسو ژوبلـه د کارڅخـه د رخصت یا طبي روغتیایي یا د نورو لګښتونو چې پیښ شویدي پایل یا نتیجه شي اوتاسو غواړئ چې د تاون د جبران دعوی وکړئ نو باید چې ددعوی فورمه ډکه کړئ.

کـه چیری ممکن وي، دخپل کارخاوند سره یوځای د دعوی فورمـه باید ډکه کړی. دا کاربـه دا فرصت برابرکړي چې د کارخاوند سره خبری اتری وکړی چې څـه ډول ملاتړ د هغـه له خوا تا سره د مرستی لپاره چې په کارکی پاتی شی یا چې هر څـه ژرچې ممکن وي ، کـه ستا ژوبلـه اجازه در کړي بیرتـه کارتـه راستون شی مُهیا کیدای شي. دا همدارنګـه دُرست دقیق او هراړخیز مالومات برابروي کوم چې ددعوی د معلومیدو یا ټاکنې کی مرسته وکړي. چیرتـه چې کارخاوند او کاریګر ونشي کولای فورمـه دواړه په ګډه ډکـه کړي، فورمـه کیدای شی علیده ډکـه شي.

د دعوی فورمـه بـه تا پـه دی قابو کړي چې وښایی چې هغـه د طبی روغتیایي لګښتونو یا د عاید دلاسـه تللو یا دواړه لپاره ده.

ستاسود کارخاوند تـه لازم ده چې یوه کاپۍ د دعوی د فورمی، او یو نقل ستا د کار دظرفیت تصدیق کوم چې تاسو بـه یی د خپل معالج ډاکټر څخـه د هغوئ د دعوی استازي له خوا پـه پنځو کاری یا رسمی ورځو کوم چا ستا څخـه یی اخیسي ترلاسـه کړی.

هر څه وختي چې ددعوی ایجنټ یا استازی ستا دژبلې په اړوند پوه شي ، پـه هماغه اندازه ژر دوئ کولای شی چې تاسو د علاج ، پاملرنې او ملاتړسره ومښلې یا ارتباط ورکړي چې ښه کیدو کی مرسته وکړي او کارتـه هر څه ژر چې ممکن وي بیرتـه ستون شی. د یوی دعوی لپاره تاسو یا ستاسو د کارخاوند کولای شي د کارخاوند دادعاګانو د ایجنټ سره تماس ونیسي:

**Gallagher Bassett Services Pty Ltd**
**GPO Box 1772, Adelaide SA 5001**
**newclaims@gb.rtwsa.com**
**Fax (08) 8177 8451**
**www.gallagherbassett.com.au**
**Phone (08) 8177 8450 or free call 1800 664 079**

**Employers Mutual SA**
**GPO Box 2575, Adelaide SA 5001**
**newclaims@employersmutualsa.com.au**
**Fax (08) 8127 1200**
**www.employersmutual.com.au**
**Phone (08) 8127 1100 or 1300 365 105**

د جنوبي استرالیا زیاتره لوی خصوصي او عامه/دولتي سِکتورټولني خپله بیمه شویدي، او د خپلو کاریګرو د تاوان دعوی ګاڼي تنظیموي. که تاسو یو خپل ځاني بیمه شوي کاروبار یا بِزنس لپاره کارکوئ او په کارکی ژوبل شوي یاست، تاسو باید دخپل کارخاوند سره د تاوان دیوی دعوی په اړوند خبری وکړئ.

## ستاسو دندی یا مُکلفیتونه Your obligations

د یوه ښه بیا روغیدو او کارته د بیا ستنیدلو پایل یا نتیجو، موږ تمه کوؤ چې تاسي:

- تاسو خپل کارخاوند دکارژوبلیدو څخه هر څه ژر چې کیدای شي خبرکړئ ( که وکولای شئ د ۲٤ ساعته دننه کی)
- هرڅه ژر چې کیدای شي دعوی وکړئ
- په هغو کړو کی چې ستاسو د بیا روغیدوملاتړ اوکارته ستنیدلو لپاره جوړشویدی فعالانه برخه واخلئ
- کارته د بیرته ستنیدلو پلان د ودی اوانکشاف په کارکی همکاری او برخه واخلی
- د خپلودندویا مکلفیتونو چې د کار دبیرته ستنیدو پلان پر اساس جوړشویدي ومنی
- اوسنی طبي روغتیایي تصدیق چې په هغه کی ستا د کارتوان او نوراړین مالومات پکښی څرګندشوي وي مُهیا کړئ
- یو مناسب کارته کوم وخت چې یی ترسره کولای شی بیرته ستون شه.

## دکارخاوند دندی یا مکلفیتونه Your employer's obligations

موږ تمه لرو چې کارخاوند به ستاسی د بیا روغیدو او کارته د بیا ستندو په اړوند ملاتړیه لاندی ډول برابر کړي:

- په ٥ کاري ورځو او ستاسو دژوبلیدو یا پکار کی ژوبلیدو دعوا نه هغوئ خپل دعواو ایجنټ یا استازي خبرول
- ستاسو دبیا روغیدو او کارته ستنیدلو فعالیتونو که برخی اخیستلو ملاتړ
- کارته د بیرته ستنیدلو پلان د ودی اوانکشاف په کارکی همکاری او برخه اخیستنه
- خپلودندویا مکلفیتونو منل چې د کار دبیرته ستنیدو پلان پر اساس جوړشویدي
- مناسبو کارونو فراهمول چې ته یی په خوندي توګه د ژوبلیدونه بیا روغیدو په حالت کی ترسره کولای شی
- کوم وخت چې تاسو د ژوبلیدو نه مخکی کار ته نشی ستنیدلای دیومناسب کار چې تاسویی کولای شی مُهیا کول.

## ستاسو دډلی /ټیم ملاتړ Your support team

لاندیني کسان به کیدای شي تاسو سره د ژوبلی نه د بیا روغیدو او کار اوټولنی ته بیاستیدوپه مرسته کی بوخت وي:

### کیس یا موضوع منیجر/مدیر

ستاسو کیس منیجر لمړني ارتباطی کس دی چې ستاسو د ژبلیدو څخه چې هر څه ژر ممکن وي د بیا روغیدو او په خوندي ډول کارته د ستنیدلوملاتړ اوخدمتونو انسجام کوي. دوئ چټک او ځانګړی ملاتړ تاسو او ستاسو کارخاوند ته برابروي او ملاتړ اوخدمتونه کوم چې تاسو ورته د ژوبلیدو او کارته د بیرته ستنیدولپاره اړتیا لرئ منسجموي.

دوئ همدارنګه تاسو اوستاسو کارخاوند ته کار ته د بیا ستیدو پلان ودی /انکشاف او تطبیق کی که د دی احتمال وي چې تاسو د کارنه څلور اونی لیری واست مرسته کوي.



ReturntoWorkSA

Return to *work.*
Return to *life.*

## ډاکټر

ستاسو ډاکټرستا د ژوبلی ارزونہ اويو ځای تاسره پريکړه کوي چې څہ ډول درمل اوعلاج لازم دی. دوئ بہ د درمل اوعلاج مقصدونہ تنظيم کړي او ستاسو دبيا روغيدو او کارتہ د بيا ستنيدلو پلان پہ وده اوانکشاف کی برخہ واخلي.

دا مهمہ ده چې تاسو پہ فعالانه ډول د درمل علاج پلانولو کی برخه واخلی ترڅو ډاډ ترلاسہ شي چې تاسو ډير ښہ ممکن پايلی يا نتيجی لاس تہ راوړئ. د هغوئ نظر وړاندی کول چې ستاسی درمل علاج څنګہ مخ ته ځي، تاسو هم کولای شی ډاکټر سره مرستہ وکړئ چې ډير مناسب درمل علاج پلان ستاسو د ځانګړو حالاتو لپاره وڅيړي.

## ترڵي يا معاونه روغتيا فراهموؤنکي

ستاسو ډاکټر شايد تاسو يو ترڵي روغتيا فراهموؤنکي تہ معرفي کړي کوم چې بہ په خپلواکه اومُستقله توګہ درمل علاج، مشوره او ملاتړ ستاسو د ژوبلي او کار اوژوند تہ بيرته ستنيدو مرستہ تنظيم کړي.

## کارتہ دبيرتہ ستنيدلو خدمت مُهيا کوؤنکې

ستاسو کيس منيجر کيدای شي کارتہ بيرته ستنيدلو خدمت مُهيا کوؤنکې فراهم کړي چې ستاسو د کارځای ګمارلو، روزنہ يا نورتخصُصي کسان لکہ د حرفی يا مسلک معالج يا فيزوتيراپِسټ بوخت کړي چې تاسو کار تہ دبيرتہ ستنيدلو لپاره تيار کړي.

## کارتہ بيرتہ ستنيدلو انسجام ورکوؤنکې

کہ ستاسو کارخاوند ۳۰ يا زيات کاريګر ولري، دوئ بايد چې يو روزل شوی کارتہ بيرتہ ستنيدو مُنسَجِم کوؤنکی ولري تر څوتاسو سره د بيا روغيد اوکارتہ د بيرته ستنيدوملاتړشي. ستاسو انسجام ورکوؤنکي کولای شي:

- تاسو سره د دعوی د فورمی او نورو هريو ډول کاغذي کارو ډکولو کی مرستہ وکړي
- ستاسو او ستاسی د کيس منيجر سره وګوري
- تاسو سره پہ کارکی د پاتی کيدلو يا بيرتہ ستنيدو کی مرستہ وکړي
- تاسره ، ددعواو ايجنټ يا استازي او طبي روغتيايی فراهمکوؤنکو سره پہ اړيکه کی وي
- داسی ګامونہ اوچت کړی چې ستاسو دبيا ژوبليد اوډ ژوبلی د زياتوالی څخہ مخنيوی وکړي
- کارته د بيا ستنيدلو پلان جوړونہ کی مرستہ وکړي
- ستاسو د کارکولو د توان او کارته د بيرستنيدلو د پرمختګ څارنہ وکړي.

کہ ستاسو کارځای انسِجام ورکوؤنکې ونلري، خپل کيس منيجر سره خبری وکړه او وګوره چې هغه څہ مرسته لہ تا سره کولای شي.

## زيات معلومات

ReturnToWorkSA (د جنوبي آسټراليا کارته بيرته ستنيدلو اداره) سره غير دانګريزي ژبی اړيکو نيولو لپاره، مهرباني وکړی د شفاهي او ليکنی ترجماني/ژباړنې مرکز تہ پہ 203 280 1800 شميره کی زنګ ووهی او د هغوئ نہ وغواړی چې تاسو 55 18 13 شميره سره وصل کړي. دا ژباړنې خدمت تاسو پہ وړيا توګه مُهيا دی او لګښت نه غواړي.



ReturntoWorkSA

Return to *work.*
Return to *life.*